# د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
# اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون
# کمېسیون ته د ادارو د اطلاع رسوني مرجع مسؤولینو د راپور ورکولو طرزالعمل

## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**مبنی**

**لومړی ماده:**

دا طرزالعمل اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون اوه‌لسمي مادې (۴) فقرې او څلوېښتمې مادې حکم پر بنسټ، اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون ته، د ادارو د اطلاع رسوني مرجع مسؤولینو راپور ورکولو اړوند چارو تنظیم لپاره وضع شوی دی.

**د پلي کېدو ځای**

**دویمه ماده:**

دا طرزالعمل؛ اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون دریمې مادې ۶جز پر بنسټ د ټولو ادارو د اطلاع رسوني مرجع مسؤولینو باندې د پلي کېدو وړ دی. اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون کې د مندرجو ادارو ټول د اطلاع رسوني مرجع مسؤولین مکلف دي چې د دې کړنلارې په رڼا کې کمېسیون ته راپور ورکړي.

**اصطلاح ګانې**

**دریمه ماده:**

(۱) راپور: د ادارو د اطلاع رسوني مرجع مسؤولینو د کلنیو کاري کړنو هغه راپور ته وایي، چې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون اوه لسمي مادې (۱) فقرې او د دې کړنلارې د احکامو په رڼا کې یې کمېسیون ته وراندې کوي.

(۲) د اطلاع رسوني مرجع مسؤول: هغه کارکوونکی دی چې د اړوندې ادارې په استازولی، د غوښتوونکي د غوښتنې فورم ترلاسه کوي او د هغه پر بنسټ اطلاعات راټولوي او غوښتونکي ته یې ورکوي.

(۳) تولې اصطلاح ګانې لکه؛ کمېسیون، د کمېسیون غړي، اداري، اطلاعات، د اطلاعات غوښتلو فورم او د اطلاع رسوني مرجع مسؤول په دې کړنلاره کې هماغه مفهوم ورکوي، کوم چې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون کې تعریف او تصریح شوي دي.

# دویم فصل

## د ادارو د اطلاع رسوني مرجع مسؤولینو دندې

**راپور ورکول**

**څلورمه ماده:**

**(۱) د ادارو د اطلاع رسوني مرجع مسؤولین د دې طرزالعمل دریېمې مادې (۱) فقرې په اساس مکلف دي چې د مالي کال په پای کې کمېسیون ته راپور ورکړي.**

**(۲) د ادارو د اطلاع رسوني مرجع مسؤولین، د دې طرزالعمل دریېمې مادې (۱) فقرې په اساس د راپور ورکولو سربېره اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون پلې کېدو څرنګوالي او د دې کړنلارې ګټو په هکله کمېسیون ته راپور ورکوي.**

**(۳) د ادارو د اطلاع رسوني مرجع مسؤولین مکلف دي چې د کال په هر وخت کې د کمېسیون اړتیا او غوښتنې پر بنسټ کمېسیون ته راپور ورکړي.**

**(۴) د ادارو د اطلاع رسوني مرجع مسؤولین؛ خپل کلنی او ربعوار راپور د دې مادې په رڼا کې د دې طرزالعمل سره مل فارمټ په اساس کمېسیون ته وړاندې کوي.**

**(۵) د مرکزي ادارو د اطلاع رسوني مسؤول؛ د ولایتي اطلاع رسوني مرجع مسؤولینو د راپورونو راټولو او توحید مسؤول دی.**

**داړمنتیا**

**پنځمه ماده:**

**(۱) غوښتونکو ته پر وخت، دقیقو او قانوني اجراآتو څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره، کمېسیون د اړتیا په صورت کې کولای شي اړین مل (ضمیمه) اسناد (د اطلاعات غوښتلو فورم، د رسید سند، د شکایتونو د درج فورم ...) له اړوندې ادارې د ورکړل شویو راپورونو سربېره وغواړي.**

**(۲) د آنلاین سېستم له لارې د کړنو (اجراآتو) جزئیات هم په راپور کې درج کېږي.**

**(۳) د ادارو د اطلاع رسوني مسؤولین خپل وروستی شوی راپور د اړوندې ادارې د لومړۍ درجې مسؤول لاسلیک په درلودلو سره په (لیکلي ډول یا برېښنالیک) له لارې کمېسیون ته استولی شي.**

**د ادارې لخوا د راپور خپرول**

**شپږمه ماده:**

**د ادارې د اطلاع رسوني مسؤول، کولای شي د هغه راپور کاپي چې کمېسیون ته یې استولی؛ د ویبپاڼې، فېسبوک پاڼې، چاپي جریدې او د اړوندې ادارې نورو اطلاع رسوني وسایلو په وسیله خپاره کړي.**

## درېیم فصل
## د ادارو د راپور په اړه د کمېسیون کړنې (اجرآت)

### ادارو ته اطلاع ورکول

اوومه ماده:

(۱) د دې طرزالعمل څلورمې مادې (۲) فقرې په اساس د ربعوار راپوررونو ترلاسه کولو لپاره، کمېسیون د هرې ربعې په پای کې د ادارو د اطلاع رسوني مرجع مسؤولین د ممکنې (تلیفوني اړیکې، برېښنالیک، واتسپ ګروپ او یا هم متحدالمال مکتوب) له لارې خبروي.

(۲) اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون پنځه‌دېرشمې مادې (۱) فقرې ۶ او ۷ جزؤونه په اساس، د ادارو د اطلاع رسوني مرجع مسؤولینو لخوا کمېسیون ته د قانون په رڼا او د دې طرزالعمل څلورمې مادې(۱ او ۲) فقرو پر مبنی د خپلو کړنو په اړه د راپور نه ورکولو په صورت کې؛ اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون پنځه‌دېرشمې مادې (۲) فقرې په اساس تأدیبي مویدات پرې د کمیسیون د وړاندیز له مخې د اړوندې ادارې لخوا تعمیل کوي.

### د راپوررونو ارزونه

اتمه ماده:

(۱) د کمېسیون لخوا د ادارو راپوررونه؛ له وړاندې ټاکل شویو شاخصونو پر بنسټ ارزول، څېړل او شنل کېږي

(۲) د ادارو د راپوررونو په هکله د کمېسیون ارزونه، څېړنه او شننه د لاندې شاخصونو په اساس ترسره کېږي:

۱- د ادارې لخوا غوښتونکي ته د ورکړل شویو اطلاعاتو او د غوښتونکي د غوښتنې فورم مندرجاتو مطابقت او څېړل؛

۲- غوښتونکي ته د ادارې لخوا پر وخت د اطلاعاتو ورکولو څېړل؛

۳- د ادارې لخوا غوښتونکي ته د ورکړل شویو واقعي اطلاعاتو څېړل؛

۴- اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون دیارلسمې مادې په مفاد د ادارو د اطلاع رسوني مرجع مسؤولینو د اجراآتو څېړل؛

۵- غوښتونکي ته د اطلاع رسوني مرجع مسؤولینو لخوا د اطلاعاتو نه ورکولو او یا د اطلاعاتو ځنډولو د لاملونو څېړل؛

۶- د غوښتونو شمېر، ورکړل شویو اطلاعاتو او ټول هغه اطلاعات چې نورو ادارو ته راجع شوي، څېړل او شننه.

### د راپور توحید

نهمه ماده:

(۱) کمېسیون د ادارو راپوررونه له څېړنې او ارزونې وروسته؛ د ادارو د اطلاع رسوني مسؤولینو کلنې راپور تر عنوان لاندې توحید کوي.

(۲) کمېسیون د دې مادې (۱) فقرې کې مندرج راپور څخه په مختلفو برخو لکه؛ د کمېسیون کلنی راپور، راتلوونکو پلانونو ترتیب، د شمېرو او رقمونو ښودلو لپاره په مختلفو برخو کې ګټه اخلي.

**د کمېسیون لخوا د راپور خپرول**

**لسمه ماده:**

(۱) د ادارو د اطلاع رسوني مسؤولينو کلنی راپور، د کمېسیون له څېړني او ارزوني وروسته؛ غوښتونکو ته د اطلاعات ورکولو څرنګوالي، کمېسیون سره همکاری او اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون پلي کول، په وېبپاڼه او نورو ټولو نشراتي وسايلو په وسيله خپرېږي.
(۲) د ادارو لخوا (حقيقي او حکمي) اشخاصو ته د اطلاعاتو ورکولو په هلکه د خلکو لا زيات پوهاوي په پار؛ کمېسیون د يو کنفرانس له لارې، په دې طرزالعمل کې مندرج راپور له شنني او توحيد وروسته د يادې مادې (۱) فقرې مندرجو معيارونو په اساس شريکوي.

**ولسمشرۍ مانۍ او ملي شورا ته راپور ورکول**

**يوولسمه ماده:**

کمېسیون، د ادارو د اطلاع رسوني مسؤولينو کلنی راپور د ياد کمېسیون د کلني راپور د يوې برخي په توګه د ولسمشرۍ مانۍ مقام او ملي شورا ته ارايه کوي.

**د راپور د ارزونې پايلې له ادارو سره شريکول**

**دولسمه ماده:**

د نيمګړتياوو له منځه وړلو، اطلاعاتو ته د ( حقيقي او حکمي) اشخاصو ښه لاسرسي، د دې کړنلارې په مفاد اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون د حکمونو ښه پلي کېدو په پار؛ کمېسیون د ادارو راپور شنني او ارزونې وروسته لاسته راغلي پايلې له سپارښتنو او ځانګړو لارښوونو سره يو ځای ادارو ته استوي.

## څلورم فصل
## وروستي حکمونه

**تعديل**

**ديارلسمه ماده:**

(۱) دا طرزالعمل د کمېسیون د اکثريت غړو د اندونو او يا هم د اطلاع رسوني مسؤولينو اکثريت وړانديزونو په اساس د تعديل وړ ده.
(۲) د تعديل طرحه؛ د کمېسیون د غړو په وړانديز، د تخنيکي او مسلکي کمېټې لخوا برابرېږي او د کمېسیون د غړو تر تصويب وروسته نافذېږي.
(۳) که چېرته د تعديل وړانديز، د ادارو د اطلاع رسوني مسؤولينو لخوا شوي وي، د دې مادې (۲) فقرې په اساس په کمېټه کې د اطلاع رسوني مسؤولينو څلور استازي هم شاملېږي.
(۳) د دې طرزالعمل د څلورمې مادې (۴) فقرې فارمټ بدلون (تغير)، د دې مادې د احکامو پر بنسټ ترسره کېږي.

**تعمیل**

**څورلسمه ماده:**

**دا طرزالعمل؛ د څلور فصلونو، څوارلس مادو او یوې ضمیمې په لرلو سره د کمېسیون د غړو تر تصویب وروسته د ۱۳۹۹\۱۰\۱۱ نېټې څخه د اجرا وړ دی.**

**د کمېسیون د غړو د لاسلیک**

| | | | |
|---|---|---|---|
| **ښاغلی عین الدین بهادري**<br>**د کمېسیون رییس** | **آغلې نجیبه مرام**<br>**د کمېسیون مرستیاله** | **آغلې زهرا موسوي**<br>**غړې** | **ښاغلی حمدالله ارباب**<br>**د کمېسیون منشي** |

د قلعه فتح‌الله شیرپرم سرک، کابل افغانستان
www.aic.gov.af info@aic.gov.af ۰۰۹۳۷۸۹۶۰۵۹۷۳

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

کمیسیون دسترسی به اطلاعات

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون

**Islamic Republic of Afghanistan**

**Access to Information**

## جدول گزارش دهی سالانه مرجع اطلاع رسانی ادارات

**تاریخ:**

**مرجع اطلاع رسانی..................................................**

| شماره | اسم متقاضی | جنسیت | | وظیفه | اداره مربوط/آدرس | تماس | نوعیت و موضوع تقاضای اطلاعات | نوعیت متقاضی | | تاریخ | | نتیجه تقاضای اطلاعات | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | مرد | زن | | | | | حکمی | حقیقی | تقاضا | اجرا | تهیه گردید | در جریان | رد گردید |
| ۱ | | | | | | | | | | | | | | |
| ۲ | | | | | | | | | | | | | | |
| ۳ | | | | | | | | | | | | | | |
| ۴ | | | | | | | | | | | | | | |
| ۵ | | | | | | | | | | | | | | |
| ۶ | | | | | | | | | | | | | | |
| ۷ | | | | | | | | | | | | | | |

**سایر فعالیت ها:**

| شماره | ویب سایت | دیتابیس | سایر |
|---|---|---|---|
| ۱ | | | |

**اسم مسوول مرجع اطلاع رسانی اداره :**

**امضاء و مهر:**